# کړندود

# په افغانستان کې د نادولتي موسسو کړندود

**وری 1392 برابره له آپریل 2013**

**سرلیک:**

په 2004 کال کې د افغانانو لپاره د مرستو د انسجام اداره (ACBAR)، د افغانی غیر دولتي موسسو د پیوستون اداره (ANCB)، د افغانستان د ښځو شبکه (AWN)، د افغانستان جنوب لویدیځ اوبلوچستان لپاره د همغږی اداره (SWABAC)، د افغانستان د مدني ټولني بنسټ (ACSFo) او د هغوی غړي موسسې په ګډه سره د لومړي ځل لپاره د نادولتی موسسو لپاره کړندود (CoC) جوړ کړل. ددې لپاره چې په دې سند کې وړاندې شوی کړندود (CoC) د هغو نادولتی موسسو (انجو ګانو) د اوسنی اړتیاوو سره سمون ولري چې په افغانستان کې فعالیت لري ؛ او سربیره پردې د مقرراتو د په پام کې نیولو میکانیزم چې په ځانګړی توګه د کړندود (CoC) د ښه پلي کولو څخه د ډاډمنتیا په خاطر جوړ شوی دی، اصلاح او نوي شوي دي.

د کړندود (CoC) د بی طرفی او په سکتور کې یې د ګڼ شمیر موسسو له استازیتوب څخه د ډاډمنتیا په خاطر دغه اصلاحات د یوې کمیټې له خوا چې په هغه کې کورنی او بهرنی نادولتي موسسې ګډون درلود، بشپړ شو؛ همدارنګه دغه جوړ شوی کړندود (CoC) په افغانستان کې له نادولتي موسسو سره شریک شول څو د هغوی نظریات هم پکې شامل وي.

د کړندود د په پام کې نیولو له میکانیزم څخه دڅارنې د هغه کمیټې له خوا څارنه کیږي چې په ازاده توګه د هغو استازو له خوا ټاکل شوې ده چې ددې سند د جوړولو مسوولیت پر غاړه لري. د څارنې د میکانیزم په هکله په دې سند کې د (کړندود په پام کې نیولو) په برخه کې لازیات معلومات ورکړ شوی دی.

## سریزه:

دغه کړندود د یو لړ ګډو نورمونو، تګلارو او ارزښتونو مجموعه ده چې په افغانستان کې د نادولتي موسسو لپاره د لارښود په منظور کارول کېږي.

**هر ه نا دولتي موسسه چې په افغانستان کې فعالیت ترسره کوي او د اقتصاد په وزارت کې ثبت او راجستر وي مکلفه ده دغه کړندود لاسلیک کړي.**

**مونږ په افغانستان کې د راجستر شویو نادولتي مؤسسو استازي، خپلې اداري مکلفې ګڼو چې په دغه مسوده کې به ځای په ځای شوي حکمونه په پام کې نیسي.**

### *عمومي حکمونه*

1. مونږ نړیوالو بشري اصولو او بشري حقونو قوانینو ته په بشپړه توګه ژمن یو.
2. زمونږ کار د ضرر نه رسولو، بیړنیو حالتونو ته په ځواب ویلو، اوږدومهاله اړتیا، د اقلیم د بدلون او ناورینونو د اغیزو کمولو، دبیوزلي د کچې راټیټولو، د بنسټیزو اړتیاو پوره کولو او ټولنو ته د ډاډمنتیا د احساس ورکولو په برخو راڅرخي.
3. مونږ هغوو ته چې لټوي مو چې مرسته ورسره وکړ او هغوی ته چې سرچینې برابروي او حقوقي ارګانونو ته حساب ورکوونکي یو.
4. مونږ د پروګرام د پلي کولو، مدیریت، پلان او د ګټه اخیستونکو او ټولنې د ګډون په برخه کې د خپلو همکاریو د شفافیت(روڼتیا) ډاډ ورکوو.
5. مونږ زیار باسو چې واک او صلاحیت مو د افغانستان او نړیوالو قوانینو سره برابر وي او د هر ډول اختلاس پر وړاندې مقاومت ښیو چې زمونږ د ماموریت او اصولو سره په ټکر کې وي.

مونږ د سیاسي اړیکو، توکم، مذهبي، عقیدوي، فزیکی ناتوانی (معلولیت) او د جنس پربنسټ هېچا ته په لومړیتوب ورکولو قایل نه یو.

### *د فعالیت اصول*

6. زمونږ د کارونو د تمرکز له جملې یو هم د ټولنې ملاتړ او پیاوړي کول دي چې د افغانستان خلکو ته د معیاري ژوند زمینه برابره شي.
7. مونږ خپل کارونه د افغانستان اساسي قانون او مقرراتو ته په درناوي تر سره کوو.
8. مونږ په افغانستان کی له هیڅ کوم سیاسي حزب سره تړاو نه لرو.
9. مونږ د افغانستان د خلکو وقار ، درنښت، کلتور، مذهب او دودونو ته په درنه سترګه ګورو .
10. مونږ د افغانستان بېوزلو او له پامه غورځېدلو خلکو ته د دوی د اړتیاو پربنسټ کارونه ترسره کوو، نه د کوم سیاسي، قومي، قبیلوي او مذهبي موخې لپاره.
11. مونږ ځکه په فعالیت تمرکز کوو چې د هغو خلکو سره چې مونږ کار کوو د توافق شویو هدفونو او لاسته راوړنو پر بنسټ پایلې ترلاسه کړو، او له هغو خلکو چې مونږ سرچینې ترې ترلاسه کړي دي، زمونږ د کار د مقصد د ارزونې هر کلی ځنې کوو.
12. مونږ ډاډ ترلاسه کوو چې زمونږ مرستې رڼې(شفافې) دي او داسې منو چې ګټه اخیستونکي او ټولنې په پلان جوړولو، څارنې ، ارزونې او پروګرام په پلي کیدو کې ښکیلې دي.

13.

14. مونږ کارکوونکي په کوم سیاسي، مذهبي، جندر او یا هم د شخصي ګټې پربنسټ په دنده نه ګومارو، بلکې د دندې لپاره مونږ کارکونکي د دوی د لیاقت او وړتیا پربنسټ نیسو .

15. مونږ له خلکو سره مرسته کوو چې خپلې ستونزې په خپله حل کړي. مونږ په خپل ځان د متکي کیدلو باور پیاوړی کوو او د خلکو د حقوقو ملاتړ کوو چې په پوره ډول د ژوند د هوساینې د تصمیم نیولو په پروسه کې شامل شي.

16. مونږ اغیزمنتیاوو او د پروګرام د مثبتو اغیزو د پراخوالي له پروسې سره ژمن یو. مونږ له دوه ګوني خدمتونو څخه ډډه کوو.

17. موږ هڅه کوو په خپلو کارونو کې د افغانستان د چاپیریال ساتنې سیستم مناسب مدیریت او د فزیکي او طبیعي چاپیریال د خوندي ساتلو په برخه کې په مسولیت سره ګام پورته کړو.

18. مونږ د خپلو کارونو او فعالیتونو څارنه او ارزونه کوو او لاسته راوړنې مو له ښکیل اړخونو سره شریکوو.

19. مونږ له مینه والو ډلو، بسپنه ورکونکو ادارو، خلکو، ښکیل اړخونو، ټولنو او دولت سره په معاملو او کارونو کې شفاف او په مسولیت سره رول لوبوو.

20. د خپلو حسابونو د ادارې او سمون لپاره مونږ د خریدارۍ، مالي کړنلارې او د حسابونو د تصفیې لپاره غوره سیستم لرو چې خپل حسابونه کنټرول او اداره کړو.

21. مونږ اړوندو علاقه لرونکو ډلو ته د دوی د غوښتنې پر بنسټ دحکومتدارۍ، مالي مسایلو او فعالیتونو په اړه لازم معلومات برابرو.

22. مونږ هغه کارونه او فعالیتونه ترسره کوو چې زمونږ په ماموریت کې شامل دي.

## د کړندود څارنه

### I. د کړندود د څارنې کمیټه

د کړندود دڅارنې کمیټه ( چې تر دې وروسته د کمیټې په نامه یادیږی) د قانون په پام کې نیولو، پیاوړتیا او څارنې مسوولیت په غاړه لري.

#### الف. د کمیټې جوړښت

ذکر شوې کمیټه باید د پنځو غړیو د شبکې څخه جوړه شوې وي.
د شبکې هره غړې اداره باید کمیټې ته یو استازی ور وپیژني .
غړي لرونکي ادارې عبارت دي له: د افغانانو د مرستو د انسجام موسسه (ACBAR)، د نادولتي موسسو د همغږۍ مرکز(ANCB)، د افغانستان د جنوب غرب د بلوڅو د همغږۍ ټولنه (SWABAC)، د افغانستان د مدني ټولني مجتمع (ACSFo) او د افغان ښځو شبکه (AWN).

**ب. د غړيتوب موده:**

په کميټه کی د يوه استازي د غړيتوب موده بايد يو کال وي، خو پرله پسې بايد تر درېيو کلونو زيات غړيتوب ونه لري.

**ج. د رهبری ټاکل:**

کميټه بايد له استازو څخه يو کس د رئيس او يو کس د سکرتر (منشی) په توګه و ټاکي.

## II. د استيناف هئيت د غړو جوړښت او دندې.

الف. د استيناف هئيت غړي بايد له رئيس او د شبکې له پنځو غړيو څخه تشکيل شوي وي.
ب. د استيناف هئيت غړي مکلف دي چې اعتراض واوري او د کميټې د کړنو لپاره سپارښتنې جوړې کړي.
ج. د اکثريت له مخې به سپارښتنې کېږي.
د. د استيناف د هيئت غړي بايد له هغو کسانو څخه نه وي چې اوسمهال د ارزونې په کميټه کې کار کوي.

## III. د کميټې غونډې او دندې:

کميټه بايد په هرو درېيو مياشتو کی يوه عادي غونډه ولري. ځانګړې غونډې به د هغو اعتراضونو لپاره ترسره کيږي چې بيړنيو اقداماتو ته اړتيا لري.

**دندې:**

الف. د منشي نه د ترلاسه شويو شکايتونو ارزونه د دېرشو کاری ورځو په موده کې؛
ب. د قضيو څېړنه او د هغې په اړه پرېکړه کول؛
ج. د عرايضو تر لاسه کول او د يوې مياشتې په موده کی د شکايتونو غړو ته لېږل؛
د. د کميټې له ټولو غړيو سره په مشوره پرېکړه ترسره کول؛
ه. که چېرته قانوني کړندود يو لړ بدلونونو ته اړتيا پيدا کوي نو د کميټې د غړيو په مشوره بدلونونه رامينځته کول؛

**پرېکړې:**

الف. خبرداری ورکول
ب. اخطاريه
ج. منحل کول
د. هره هغه مؤسسه چې دغه لايحه يې منلې او لاسليک يې ورباندې کړی دی، د سرغړونې په صورت کې يې نوم د لاسليکوونکو له لړليکه لرې کېږي.
ه. پرېکړه به د اکثريت غړو له خوا کيږي

## IV. د کمیټی منشي او د هغه نقش:

### الف. د منشي نقش:

منشي به د کمیټې یو له پنځو غړیو څخه وي او په هرو درېیو کلونو کې به یو ځل بدلېږي.
منشي به لاندې ذکر شوې دندې پر غاړه لري:

1) د افغانستان له دولت څخه د قانوني راجستر کېدلو او تصدیق یوه کاپي ترلاسه کول او ساتل؛
2) د کمیټې د غونډو برابرول؛
3) د غونډو لپاره د اړوندو اسنادو، یادښتونو او اجنډا تیارول؛
4) د کمیټې د غړیو ترمنځ د کارونو همغږي کول؛
5) د کمیټې لپاره د شکایتونو ترلاسه کول؛
6) د غوښتنلیکونو او سپارښتنو ترلاسه کول؛
7) کمیټې ته د شکایتونو لیږل؛
8) د شواهدو په مرسته د شکایتونو ارزونه ، که د پام وړ وي او یا نه وي؛
9) کړندودونو ته وده ورکول؛
10) دکړوندودونو د ویبپاڼې ساتل؛
11) د لاسلیک کوونکو د لسټ ساتل او چمتوالی؛
12) د ژوند لیکونو ساتل؛
13) د محرمو شکایتونو او یادښتونو ساتل؛

## V. د اعتراضونو د ترلاسه کولو بهیر:

### الف. لاندې خلک یا موسسې کولای شي چې شکایتونه ثبت کړي:

1) ګټه اخیستونکي، د ټولنې غړي، شریکان او د نادولتي موسسو منل شوي غړي.
2) د نوموړي کړندود لاسلیکوونکي.
3) هغه ادارې چې په شبکه کې شمولیت لري.
4) د لاسلیک شویو نا دولتي موسسو د غړیو کارکونکي.
5) او داسې نور ښکیل اړخونه.

د کمیټې منشي به د ښکیل اړخونو شکایتونه او نور داسې شکایتونه چې په رسنیو کې خپرېږي څاري.

### ب. د شکایتونو پروسه:

1) د کمیټې منشي به د اړونده ګروپونو او خلکو شکایتونه د ممکنو وسایلو له لارې ترلاسه کوي.
2) منشي به ترلاسه شوي شکایتونه ارزوي او د لسو کاري ورځو په موده کې به د پام وړ شکایتونه د کمیټې له غړیو سره شریکوي.
3) کمیټه به د ترلاسه شویو شکایتونو څېړنه کوي او د دېرشو کاري ورځو په موده کې به خپله پرېکړه وړاندې کوي.

4) هغه غیر دولتي موسسه چې نیوکه وربانديې شوې، د ستونزې د هوارولو په خاطر کمیټې ته رابلل کیږي.

## د کړندود ضمیمه

### 1. په کړندود کې د بدلون راوستلو هدف:

دغه کړندود په افغانستان کې د ټولو نادولتي مؤسسو د فعالیتونو په هکله را منځته شوی چې له مخې یې دنادولتي مؤسسو اوسمهالې اړتیاوې او روان حالت له کړندود سره سم یقیني کړي.

### 2. تعریف:

**انجو:** یوه داخلي او یا هم بهرنی نادولتي، غیر سیاسی او په ګټو نه ولاړه(غیرانتفاعي) مؤسسه ده.

**په ګټو نه ولاړ (غیرانتفاعي):** نادولتي مؤسسه نه شي کولای خپل سامان آلات، عواید، او یا هم ګټې له ګټو ترلاسه کوونکو پرته هیڅ یوه شخص ته وویشي. خو دلته کېدلای شي ځینې کارمندان معاش ولري او یا هم ځینې فعالیتونه د عوایدو د ترلاسه کېدو په خاطر وي، چې کېدلای شي د یاد شوي هدف د ترلاسه کولو په خاطر یې مؤسسه وکاروي.

**ناپیلتوب:** مونږ خلکو ته د هغوی د نژاد، مذهب، جندر او سیاسي تړاو په نظر کې نیولو پرته د اړتیاوو پر بنسټ مرستې وړاندې کوو.

**رونوالی :** د پېټو فعالیتو او شرایطو د نشتوالي په معنی ده، د ګډو همکاریو او همغږۍ لپاره د ټولو اړینو معلوماتو موجودیت او په ګډه پربکړه کول، او یا هم د تړونونو، معاملاتو، عملي فعالیتونو او د مالي حسابونو په انتقال کې ټولو ته د تصدیق کولو په برخه کې اجازه.

**حساب ورکول:** په منظمه توګه مونږ د خپلو فعالیتونو د اغېزو ارزولو ته ژمن یو. مونږ د خپلو فعالیتونو د حساب ورکولو مسؤولیت ګټو پورته کوونکو، تمویلوونکو ادارو او یا هم هر بڼکیل اړخ ته په ورکولو قایل یو.

**بې پرېتوب:** موږ په وسله والو شخړو کې د هیڅ لوري پلوي نه کوو، موږ د اړتیاوو پر اساس پاملرنه کوو، او د نړیوال بشری قانون له مخې مونږ قربانیانو ته د بې پرې لاسرسي هلې ځلې کوو.

**خپلواکي:** موږ په ټولنه کې د خلکو د اړتیاوو د په نښه کولو لپاره ارزونه ترسره کوو. زمونږ پروګرام د اړتیاوو پر بنسټ را منځته شوی، نه د سیاسي مسایلو پر بنسټ.

**شکایت:** د ګټو پورته کوونکو، د ټولنې د غړو، شریکانو او د لاسلیکوونکو مؤسسو، په شبکه کې د غړو مؤسسو، د لاسلیکوونکو مؤسسو د کارمندانو او د نورو بڼکیل اړخونو له خوا د لاسلیکوونکو مؤسسو پرخلاف بیان، د درد څرګندولو، د نارضایتي او یا هم د نفرت څرګندولو ته وایي.

**د بشر نړیوال قانون او د بشر د حقوقو نړیوال قانون:** دوه سره بېل دي، خو د قانون بشپړوونکې برخې دي. دغه دواړه د افرادو د ژوند، روغتیا او عزت د خوندي ساتلو په موخه را منځته شوي دي.